# د محاکات نظریه

پوهنوال شاه محمود کېوال

پښتو څانګه، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډیز**

د محاکات نظریه د هنر په برخه کې داسې وړاندې شوې چې هنرمن پېښې یا تقلید کوي. د بېلګې په توګه یو انځورګر هغه څه انځوروي چې په طبیعت کې شته، لکه: د غره لمن، ویاله، کېږدۍ او پېغله چې منګی له اوبو ډکوي. په اسمان کې زانې، پر څمکه اسونه، پسونه، سپي او ... چې دا هر څه له طبیعت نه رااخلي او د رنګونو په وسیله یې انځوروي. یو شاعر که خپله محبوبه ستایي او هغه له سپوږمۍ یا کوم ګل سره پرتله کوي، د هغه محبوبه، سپوږمۍ او ګل ټول د طبیعت او نړۍ کې شته. کوم لیکوال چې کیسه یا ناول پنځوي، هغوی هم د طبیعت او نړۍ د پېښو پېښې کوي.

اپلاتون دا نړۍ د رښتینې هغې سیوری بولي او له سیوري نه د هنرمن اخیستنه بیا یو بې ارزښته کار؛ په دې مانا چې دا نړۍ و طبیعت په خپله د اصلي نړۍ (عالم مثل) کاپي ده، له کاپي نه کاپي ایستل بې ارزښته دي.

ارستو هم هنر محاکات، پېښې یا تقلید بولي، خو نظر یې له خپل استاد (اپلاتون) سره په ټوله کې توپیر لري. د ارستو له نظره پېښې یا تقلید د هنر او طبیعت ترمنځ عمومي اړیکی دی. هنر یواځې د محسوسې نړۍ تقلید نه دی، هنر له تقلید و تمثیل لوړ دی. له طبیعت څخه د هنرمن تقلید کټ مټ کاپي یا انځور نه دی، نوښت او اوښتون لري؛ یا ترې څه کمېږي یا پرې ډېرېږي.

**کلیدي نومونې : محاکات، تقلید، هنر، هنرمن.**

**سریزه**

Ketabton.com

محاکات زموږ په هنر و ادب کې يو عربي نومونه ده چې د يوناني ومي (Mimesis) په اړه ده. محاکات د حکایت، کیسه کولو او په نورو بېلابېلو ماناوو کارېدلی دی چې په راتلونکې لیکنه کې راغلي دي.

د محاکات نظریه له لرغوني یونانه سرچینه اخلي، وروسته بیا د نورو ملتونو هنر و ادب ته لېږدېدلې او خپره شوې ده. ځینې وایي چې د Mimesis مفهوم د لرغوني یونان له فیثاغورث راپیلېږي، ځینې وایي چې له سقرات او ځینې دیموکریت ښیي. د Mimesis ویي او نومونې د لومړي ځل کارونې په اړه هم دغسې یو توپیر شته؛ ځینې یې دیموکریت لومړی کاروونکی بولي او ځینې اپلاتون. په اسلامي نړۍ کې د محاکات نومونه د لومړي ځل له پاره ابو بشر متي کارولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محاکات مفهومي او مانيزه لړۍ له لرغوني يونانه تر اوسه پر مخ ځي، په دې اړه د پوهانو په نظرونو کې هم توپير شته او ټول يې په اړه يوه خوله نه دي. له بلې خوا په بېلابېلو ځايونو او مهالونو کې يې هم مانا او مفهوم څه نا څه اوښتی دی.

## د څېړنې ارزښت

پښتو ژبه او ادب له نړۍ والو نظرونو اغېزمن دی، ځکه نو اړتيا ده چې موږ د ژبې او ادب په برخه کې د نړۍ والو په نظرونو پوه شو. د دې له پاره بويه چې د ادب نړۍ والې نومونې او مفهومونه په پښتو ژبه وړاندې او په اړه يې څېړنې وشي. په دې ليکنه کې د محاکات په اړه ګټور او ارزښتناک معلومات وړاندې شوي دي چې نوي دي.

## د څېړنې موخه

هره ژبه پرمختګ ته اړتيا لري او دا پرمختګ تر ډېره په څېړنو پورې تړلی وي. په کومه ژبه کې چې ډېرې څېړنې شوې وي، ډېر لوستونکي لري. پښتو ژبه بيا يوه داسې ده چې پوهنيزې څېړنې پکې مهمه اړتيا ده. د دې څېړنې ستره موخه د پښتو ژبې پرمختګ، په ځانګړې توګه د هغې موضوع په اړه معلومات وړاندې کول دي چې دا څېړنه پرې چورلي.

## تېرو څېړنو ته کتنه

محاکات د هنر په برخه کې يو داسې نظريه ده چې نړۍ وال رنګ لري. په نړدې ټولو سترو ژبو کې يې په اړه معلومات خپاره شوي دي، خو په پښتو کې يې معلومات پر نشت شمېرل کېږي. د ډېرو هڅو، پوښتنو و ګروېږنو نه وروسته هغه معلومات لاس ته راغلل چې په دې ليکنه کې ترې ګټنه شوې ده. هغه معلومات که څه هم لږ دي، خو ګټور دي.

## مواد او کړنلاره

د دې څېړنې له پاره له شته باوري سرچينو ګټه اخيستل شوې ده، د څېړنې ډول يې کتابتوني او مېتود يې تشريحي – توصيفي دی.

محاکات په لغت کې (کيسه کولو، حکايت کولو، بيا ويلو، ورته ، يورنګ او مشابه) مانا لري. د منطق د نومونې په توګه د يوناني ويې Mimesis انډول و ژباړه ده. مانا يې د يو څيز په څېر د بل څرګندول يا ښکاره کول، خو چې کټ مټ هاغسې نه وي، لکه يو انځورګر چې د يوه انځور په وسيله د څيزونو ورته يا يورنګ بڼې ښکاره او څرګندوي، خو کټ مټ هاغسې نه وي. په همدې ډول شاعران هم د څيزونو او وګړو ورته بڼې ښکاره او څرګندوي. دا چې هنرمنان پر څيزونو، وګړو او په ټوله کې پر بهرنيو ښکارندو چورلي او په ورتوالي يا مشابهت کې په يوه ډول تقليد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، ځینو Mimesis په تقلید راژباړلی دی. د دې نظریې مخکښ ارسطو د دې مانا په اړه غږېدلی چې هنر له یوې ځانګړې غریزې رازېږېدلی، هغه چې (محاکات یا تقلید یا Mimesis) ته اوښتې ده.
( ابادیس وېبپاڼه ، بې.ن )

"محاکات" هغه ژباړه ده چې مسلمانانو د Mimesis ویې له پاره کارولی. د هرمان کولر، جرالد الس او ګوران سوربم په څېر ژبپوهانو ثابته کړې ده چې دا ویی د Mimos له ریښې څخه رابېل یا مشتق شوی دی. د Mimeisthai، Mimesis، Mimetes او Mimetikos په څېر ټول ویونه له همدې ریښې څخه رابېل شوي دي. Mimos او Mimotos هغه چا ته وایي چې تقلید او تجسم کوي، Mimema د تقلید د عمل پر پایلې او Mimesis په خپله پر عمل او د هغه پر پړاوونو دلالت کوي. Mimetikos هغه موضوع ده چې تقلیدېدای شي.

د یونانیانو په فکرونو کې د Mimesis یا تقلید نظریه له فیثاغورثیانو راپیلېږي او له اپلاتون سره پر فلسفي نظریې اوړي. اپلاتون د Mimesis مفهوم ( په اټکلي ډول له دامن Damon ) څخه چې په پنځمه مخزېږدې پېړۍ کې د موسیقۍ نظریه وه، اخیستی او د جمهوري محاورې په دویم او درېیم کتاب کې چې پر موسیقۍ بحث کوي، مطرح کوي. د هغه په دوره کې لا Mimesis د تقلید مانا لرله. ارسطو ورته له اپلاتونه په توپېرلي او پراخ مفهوم سره ګوري، ځکه هغه په دې باور دی چې اړتیا نه شته پېښه هاغسې څرګنده شي، څنګه چې وه، کېدای شي تر هغې ښه یا بده وي.

هغه موضوعات چې [شاعر] محاکاتګر یې څرګندوي، د هغوی له عاملانو سره هغه عملونه دي چې یا به ښه وي یا بد. د انساني شخصیت تنوع تل لږ و ډېر له لومړني توپیر سرچینه اخلي، ځکه د بدۍ او نیکۍ په وسیله شخص توپیرېږي، ځکه نو دا اړتیا لري، هغه عوامل چې څرګندېږي په نیکۍ او بدۍ کې باید له موږ ښکته یا پورته وي یا کټ مټ هاغسې چې موږ یو.
(بازرګاني، ابراهیم، بې.ن)

د محاکات نظریه له لرغوني یونانه تر اوسه په فیلسوفانو، هنرمنانو، شاعرانو او د هنر او ادب په کره کتونکو کې پاموړ ده. دا نظریه لومړی دیموکریت مطرح کړله، سقرات په جدي توګه ښکلاپېژندنې او د هنر فلسفې ته وردننه کړه، اپلاتون و ارسطو هر یوه په خپل ځانګړي لیدلوري سره تفسیر کړه او پلوتین (پلوتینوس) د هغوی د نظرونو یوه ترکیبي بڼه وړاندې کړله. که څه هم د لویدیزې نړۍ په منځنیو پېړیو کې دا بحث له پامه غورځېدلی وو، خو له نېکه مرغه د فارابي، ابن سینا، ابن رشد او خواجه نصیر په څېر مسلمانو پوهانو د نوښتګرو او موشګافانه نظرونو په وړاندې کولو سره دغه نظریه د اسلامي ټولنو له ځانګړو فرهنګي غوښتنو سره سمه وغځوله. د رنسانس د دورې له پیل سره، لوېدیځوال کره کتونکي او د نظر خاوندان بیا د مسلمانانو د تالیفاتو پر بنسټ ژباړو ته په پام دې بحثونو ته لیواله شول او په دې اړه یې ګڼ کتابونه او مقالې ولیکلې. دې نظریې له پیل راهیسې، بېلابېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلونونه ازمویلي او د فلسفي، ادبي او انتقادي بحثونو له پاره یې په زړه پورې زمینه برابره کړې ده (طاهري، محمد، ۱۳۸۸ ل.ل )

د Mimesis ویی د لومړي ځل له پاره یوناني فیلسوف اپلاتون په خپل کتاب "جمهوریت" کې کارولی دی. د اپلاتون د نظریې له مخې دا نړۍ ظاهري ده، نه حقیقي. د شیانو حقیقت په بله نړۍ کې دی چې (عالم مُثُل) نومېږي او د دې نړۍ محسوسات د هغه حقیقت تصویر او سیوری دی. په حقیقت کې هغه څه چې په (عالم مُثُل) کې شته، یوه بشپړه او لوړه بېلګه (Idea) ده چې تصویر او سیوري یې په دې نړۍ کې غبرګېږي. بله خوا اپلاتون په دې باور وو چې د هنرمنانو پنځونې د طبیعت تقلید دی او دا چې طبیعت په خپله د حقیقت تقلید دی، له دې کبله د هنرمن په ځانګړې توګه شاعر کار به دومره ارزښت ونه لري، ځکه څه چې پنځوي د تقلید تقلید دی (ویکي فقه وېبپاڼه، بې.ن).

اپلاتون به ویل چې دا دنیا د ثابتو حقایقو په دې مانا چې مثلو (ideas) د سیوري، عکس او کاپي حیثیت لري او شاعران چې د کاپي د کاپي کولو هڅه کوي، کار یې له حقیقته ډېر لرې او کم ارزښته دی. ارستو چې کله په بوطیقا کې د شعر او تاریخ ترمنځ د توپیر خبره کوي، د استاد نظر بې له دې چې اشاره ورته وکړي، ردوي (غضنفر، ۱۳۹٦ل.ل: ۵۳ م)

اپلاتون او ارستو چې ممسیس د هنر یا ادب او شعر اساس ګڼي او موږ یې په محاکات پېژنو یا د یو چا د تقلید، پېښو یا حکایت کولو داسې انداز چې ذهن اصل ته واړوي او هنرمن خپل عواطف یا احساسات نورو ته سم دم ورولېږدوي، خو دا حکایت هغه (داستان ـ کیسه) نه ده چې تاریخ ته ورته وي، لکه: کومه بده یا ښه تاریخي پېښه موږ اغېزمنوي او په مستقیم ډول لوستونکي یا اورېدونکي ته وړاندې کېږي یا مخامخ د یو چا حالت اغېز راباندې کوي. استاد روهي وايي:« که یو څوک ژاړي او د هغه ژړا نور خلک متاثر کړي یا له درده زګېروی کوي او د خلکو د تاثر او خپګان سبب شي، دې ته هنر نه ویل کېږي. هنرمن هغه څوک دی چې خپل ریښتیني احساسات او انطباعات په هنري توګه (د حرکتونو، اوازونو، رنګونو، او کرښو په ذریعه) نورو ته ورولېږدوي. په دې اساس هغه شخص هم هنرمن نه دی، چې په زوره (د مجبوریت له مخې) خاندي او نور هم په خندا راولي یا په تصنعي توګه زګېروي کوي او خلک متاثره کوي.

اپلاتون او ارستو په دې کې یوه خوله دي چې د هنر ماده ممسیس یا محاکات دي، خو په اصل کې د دوی نظرونه مانیز توپیرونه سره لري. اپلاتون محاکات یا تقلید بد ګڼي او د طبیعت، ژوند او پېښو له کاپي څخه د بیا کاپي کولو په پایله کې د هنرمن یا شاعر په اړه وايي چې دوی له حقیقت څخه دوه ځله لرې کېږي، په دې اړه اپلاتون د (مثُلو) نومیالی نظریه لري، خو ارستو دا کاپي کول هوبهو یا مستقیم تقلید او کاپي نه ګڼي. د هغه په اند شاعر چې کله د ژوند نقل کوي، نو د ژوند هغه ضروري برخې چې اړینې ورته ښکاري، موږ ته یې وړاندې کوي، غیر ضروري خواوې یې نه رااخلي. یو انځورګر که موږ ته د ځنګل یوه منظره ښیي، نو هغه د ټول ځنګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفصيلات نه راته وړاندې کوي، بلکې هغه اړین تفصيلات راته ښکاره کوي، چې موږ ترې د ځنګل تاثر اخيستی شو. دغسې که يو سندرغاړی موږ ته کليواله سندره اوروي، نو دا هېڅ ضروري نه ده چې هغه دې په خپله نغمه کې د کلي د ژوند د ټولو تفصيلاتو نمايندګي وکړي، بلکې هغه به يواځې موږ په هغه احساس کې شريکوي، کوم چې ده د کلي له ژوند نه اخيستی دی.

ارستو باور لري چې شاعر به هرومرو د يوې پېښې د انځورولو په وخت کې يا لکه څنګه چې وي، هماغسې به يې وړاندې کوي يا به زياتی او کمی پکې راولي. که يې له خپلې کچې زياته انځورګري وکړه، نو تراژيدي ده او که يې کموالی پکې کړی وو، نو د ارستو په اند دا کوميډي ده.

د مثال په توګه: شاعر په خپل کلام کې د پسرلي ښکلاوې رااخلي او خپل احساسات ورسره ګډوي، هغه که د پسرلي زياته ستاينه کوي او يا کمه، همدارنګه کولای شي يوه موضوع په ښه يا بد ډول انځور کړي، په دواړو حالاتو کې پکې هنر شته، په دې شرط چې خپل احساسات ورسره ګډ کړي او په هنري ډول انځورونه په لفظونو کې داسې وړاندې کړي چې په لوستونکي او اورېدونکي اغېز وکړي، هغه وهڅوي، عواطف يې را وپاروي او مينه يا خپله علاقه ورسره ښکاره کړي.

د حقيقتونو او معلوماتو وړاندې کول په علمي ژبه، تاريخ او فلسفه کې د هنر په څېر نه وي، په علمي ژبه کې موږ چې څومره حقيقت ته نږدې کېږو، هغومره خوند اخلو، خو هنر دغسې نه دی، دلته له حقايقو داسې پرده اخلو چې يوه بله پرده لا پاتې وي، خو څرک يې راته معلوم وي او موږ يې حس کړو يا په اړيکو پوه شو. هنر هغه دی چې د نامعلومو شيانو داسې درک وکړو، لکه موږ ته چې مخامخ وي يا مو په لاسونو کې وي او يا يې په پنځو واړو حواسو درک کوو، لکه:که موږ د جنت په اړه خبرې کوو يا يې اورو، نو جنت خو چا نه دی ليدلی، خو د هنرمن معلومات د جنت له هوا، فضا، طبيعت، شاتو او شېدو څخه بايد په داسې انداز وي چې اورېدونکی يې په عين نشتون کې شتون احساس کړي، ځان پکې ووينې، هغه شېبه ژوره ساه واخلي، سترګې پټې کړي، سپېږمې کش کړي، لاسونه وغځوي او يوه شېبه له خوندونو ډک آرام وکړي، خوله وچړپوي او ستونی کېکاږي... په دې مانا چې هنر د حضور او غياب ترمنځ د اړيکي جوړولو وسيله ده...(مبين، رحمت الله، ۲۵ غبرګولی، ۱۴۰۰ ل.ل)

د محاکات نظريه د ادبي کره کتنې په تاريخ کې له لرغونو او مهمو نظريو څخه ده. د دويمې هجري پېړۍ د محاکات نومونه د يوناني ويې Mimesis سره انډول ده چې مانا يې تقليد يا تمثيل ژباړل شوې ده. غنيمي هلال چې د تطبيقي ادبياتو له مخکښانو څخه دی، وايي: د محاکات ويی د طبيعت له مخې پېچلی مفهوم لري، په غالب ګمان له همدې امله د هنرمن اصالت ته له پام پرته د خالص يا وچ تقليد په مانا کارول شوی دی. په داسې حال کې چې د محاکات مانا اصلي اغېزمننه ده چې هنرمن هضم کړي، نه دا چې په خوار و ځپلي تقليد بسنه وکړي. د محاکات په نومونه کې د پيروی، تقليد، غبرګون، ورته کېدل، بهرنۍ نړۍ ته ګرځېدنه و پاملرنه، تمثيل، اقتباس، اخيستنه او ... مفهومونه تر نورو ډېر ليدل کېږي. دا مفکورې هم د وخت په تېرېدو سره اوښتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محاکات نظريې ريښه يونانيانو ته ورګرځي، روميانو پر يونان تر لاسبري وروسته د خپل کلتور و فرهنګ بنسټ پرې کېښود. د بېلګې په توګه، هوراس(۸ -۶۵ م ز) او کانتليان (۳۵ - ۹۶ م ز) خپل مخاطبين او شاګردان د ارستو د فکر تقليد ته راوبلل چې د طبيعت د محاکات نظريه يې وړاندې کړه، تر دې چې روميان په دې باور وو چې له يوناني هنر تقليد د اصيل هنر غوښتنه ده. کانتليان هم همدا نظريه د هنر له اصولو نه د يو اصل په توګه وړاندې کړه، هغه په دې باور وو چې محاکات له نوابغو، استعداد لرونکو او وړتيا لرونکو وګړو پرته بلچا ته شوني نه دي، بيا د محاکات موضوع له شکلي نه ډېره مانيزه او ريښوي ده. يواځې محاکات اصيل او غوړېدلي ادبيات نه رامنځته کوي، بلکې اړينه ده چې تخليق او نوښت ورسره وي.

لومړنی شخص چې د وينا د هنر د منشاء او ماهيت په اړه يې خبرې وکړې فيثاغورث (۵۰۰-۵۶۹ م ز ) دی. هغه لومړنی شخص دی چې د موسيقۍ هنر يې د اسمان او طبيعت تقليد او تمثيل ګڼه، خو د Mimesis اصطلاح په اړه يې څه ويلي نه دي. له هغه وروسته ديموکريت ( ۳۷۰ - ۴۶۰ م ز ) د لومړي ځل له پاره د Mimesis ويی د طبيعي قواعدو د تقليد څرګندولو له پاره وکاروه. د يوناني فيلسوفانو د يوې بلې ډلې په منځ کې هم محاکات په اتن کې وړاندې شول. هغه مفهوم چې سقرات اختراع کړ، اپلاتون او ارستو پراخ کړ. د سقرات له نظره، محاکات د څيزونو د بڼو د تمثيل په مانا وو. اپلاتون په خپل "جمهوريت" کتاب کې دا ويی د هنر د فلسفې په تفسير کې ډېر کارولی دی او د هنر ټول ډولونه يې محاکات ګڼلي دي. هغه د محاکات اصل يواځې د هنر نړۍ پورې نه محدودوي، ځکه چې د هغه په فلسفه کې مادي نړۍ (محسوس واقعيت) په خپل وار د (عالم مثل) تقليد دی. د اپلاتون په باور، کله چې يو هنرمن د بهرنۍ نړۍ تقليد کوي، هغه په حقيقت کې د هغه څه تقليد کوي چې په خپله تقليد دی.

ارستو هم په خپل (بوطيقا) اثر کې هنر محاکات راپېژني، خو د خپل استاد پر خلاف د محاکات په اړه دقيق باور لري. هغه د تقليد اصل غريزه يي او فطري ګڼې، کوم چې له کوچنيوالي څرګندېږي؛ کوچنيان د لوبو پر وخت خپله اړونده نړۍ بيا ننداريزوي او په دې توګه د خپل چاپېريال پېژندنې ته رسېږي. په دې ډول انسان د تقليد له لارې خپله لومړنۍ پوهه ترلاسه کوي. د ارستو له نظره تقليد د هنر او طبيعت ترمنځ عمومي اړيکه ده، ارستو د اپلاتون مثالي نړۍ (عالم مثل) ونه منله او څرګنده يې کړه چې هنر يواځې د محسوسې نړۍ تقليد نه دی؛ هنر له تقليد و تمثيل څخه لوړ دی.که څه هم هنرمن په څرګنده د طبيعت تقليد کوي، خو وروستۍ پايله يې په بشپړه توګه نوې او بېله پديده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوټين (Plotinus) د محاکات په اړه د فيلسوفانو نظرونه سره ټړلي، دی وايي چې هنرمن يواځې له طبيعت تقليد نه کوي. هغه په ښکلا پنځونه کې طبيعي قوانين کشفوي او د نوې پنځونې له پاره يې په خپلواکه توګه کاروي. په هر صورت، داسې ښکاري چې د محاکات نظريه د تقليد، پيروۍ او غبرګون سره تړلې ده.

منځنۍ دوره چې په لويديزه نړۍ کې د محاکات په اړه د ځوړ او بې ارزښتۍ دوره ده. د سنت آګوستين او ديونيسوس په څېر د اروپا د منځنيو پېړيو مفکرينو دا موضوع راپورته کړه چې که يو هنرمن غواړي د طبيعت تقليد وکړي، نو غوره دا ده چې پر ناڅرګندې (غيبي) نړۍ تمرکز وکړي، کومه چې يوه بشپړه نړۍ ده. له دې پرته ، غوره دا ده چې هنرمن په مادي نړۍ کې هم د ښکلا د تلپاتې او همېشنيو ښو لټه وکړي. بنسټپال پوهان له دې هم وړاندې لاړل او ادعا يې وکړه چې خدای هيچا ته اجازه ورکړې نه ده چې د نړۍ د پيدايښت تقليد وکړي. داسې تحليلونو په اروپا کې د محاکات د نظريې په اړه فلسفي بحث غلی او نږدې څنډې ته کړ. له همدې امله په منځنيو پېړيو کې د بېلابېلو دلايلو له کبله د محاکات نظريه، لکه: د نورو علومو په څېر، له ځوړ سره مخ او پام ورته لږ شو.

په اسلامي نړۍ کې د اپلاتون د محاکات نظريه په دويمه هجري پېړۍ کې په عربي ژبه د يوناني فيلسوفانو د اثارو په ژباړې بيا وځلېدله. ابو بشر متي (۲۵۴ – ۳۲۴ ل. س) د لومړي ځل له پاره د ارسطو د (Poetics) په عربي ژباړه (بوطيقا) کې د Mimesis د نومونې پر ځای "محاکات" کارولی دی، د محاکات ريښه "حکي" ده، مانا يې د يوې پېښې په اړه حکايت کول، د يوه څيز مثل، همرنګه او ورته راوړل. ابوناصر فارابي (۲۵۷-۳۳۹ ل.س) د اسلام له لومړنيو پوهانو څخه دی چې په خپلو فلسفي افکارو کې د محاکات په اړه هم مهمې نظريې لري؛ هغه د محاکات په اړه دقيقه تجزيه او تحليل ترسره کړی او د ګړني (قولي) او عملي په دوو څانګو يې ويشلی چې ګړنی يې د يو مطلب د بيان پايله ده او عملي د يوه کار د ترسره کېدو حاصل دی. له فارابي وروسته تر ټولو مشهور شخص چې د ارسطو بوطيقا يې سپړلې ابن سينا (۳۷۰ – ۴۲۸ ل.س) دی، د ده په باور د محاکات موخه د يو چا يا څيز په اړه د علاقې يا کرکې راپارول دي، نه يواځې د حقيقت څرګندول. په ښکاره ابن سينا له اپلاتون سره په دې اړه همنظره وو چې محاکات د حقيقت لور ته لارښوونه نه کوي، خو د اپلاتون په څېر يې نه ردوه او برعکس يې د ښوونې او روزنې يوه ښه لېږدوونکې باله.

بل شخص چې د يوناني فيلسوفانو پر اثارو يې څېړنه وکړه، ابن رشد اندلسي (۵۲۰ – ۵۹۵ ل.س) دی چې د فارابي او ابن سينا پر خلاف يې محاکات په نړۍ واله کچه تفسير کړل، که څه هم د ابن سينا نظرونو ته يې پام کوه، خو د محاکات په اړه د نظر خاوند وو چې نظرونو يې د محاکات په اړه د بېلابېلو کلتوري ټولنو ترمنځ د ګډو قوانينو د کشف لار هواره کړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت د اسلامي نړۍ محاکات، سره له دې چې د دې نظريې له اصولو سره يو څه ورتوالی لري؛ مفهومي او مصداقي بدلون منلی دی.

د رنسانس دورې اروپايانو ته بيا د دې لار هواره کړله چې د محاکات په ګډون د لرغوني يونان فلسفې ته بيا کتنه وکړي چې په اروپايي ژبو د مسلمانو پوهانو په ځانګړې توګه د ابن رشد قرطبي د ارزښتناکو اثارو په ژباړلو په منځنيو پېړيو کې د اروپايانو پرمخ د هيرې شوې پوهې دروازې پرانيستل شوې.

په رنسانس دوره کې د ښکلو هنرو د نظريې بنسټ له تمثيل او محاکات سره ليوالتيا ده چې دې اړخ په ځانګړې توګه په موسيقۍ کې ځان څرګند کړ. د محاکات نظريه تر ټولو وړاندې د پنځلسمې پېړۍ په لومړيو کې د ګيلبرتي (L.Ghilberti) په اثارو کې وکارېدله. هغه په خپل اثر کې څرګنده کړې چې له طبيعت څخه د تقليد له پاره ډېره هڅه وکړي. البرتي (Albirte) هم څرګنده کړه چې د ښکلا رامنځته کولو له پاره له طبيعت څخه د تقليد نه بله غوره لاره نه شته. ليوناردو داوينچي (۱۴۵۲ – ۱۵۱۹ ز) تر نورو افراطي نظرونه درلودل، د ده په وينا: هغه هنرمن انځورګر چې طبيعت په سمه توګه انځوروي، د ستاينې وړ دی. دا د نظر خاوندان هغه مخکښان وو چې د رنسانس دورې ډېر ليکوال يې پلويان وو. د شپاړسمې پېړۍ په منځ کې شعر او شاعران دې بحث ته راکاږل شول او دا هغه وخت وو چې کره کتونکو د ارستو بوطيقا په بشپړه توګه منلې وه.

(F.Sittessa) (۱۵۷۵ز) په ارستويي طريقه وايي چې محاکات د شعر له څلورګونو توکو څخه يو دی، نور درې يې شاعر، ژبه او هنري خوند مونډل دي. لږ وروسته د محاکات نظريه له ايټاليې نه المان ته ولېږدېدله او (Dürer) يې ځان ته راکاږه. له هغه ځايه يې فرانسې ته لاره وموندله او ډېرو نورو يې هرکلی وکړ. په ټوله کې داسې ښکاري چې د محاکات اوسنۍ نظريې درې پېړۍ ټينګ ځای درلود او د نظر خاوندانو پرې ګڼې ماناوې ورډېرې کړې. د رنسانس دورې ځينې ليکوال په دې باور وو چې يواځې ښه او خيال پاروونکي تقليدونه د هنر په خدمت کې دي. ځينو هڅه وکړه چې د تقليد ښه تفسير وړاندې کړي، دا د دې لامل شو چې دوی د تقليد او کاپيي له مانا لرې شي، تر دې پورې چې د شپاړسمې پېړۍ په پای کې د محاکات مانا د طبيعت له تقليد و تمثيل نه نوايستنې، پنځونې او نوښت ته واوښته او دا بحث اوولسمې پېړۍ ته هم وغځېده.له دې کبله په دې دوره کې د محاکات مفهوم له وچ تقليد او پيروۍ څخه ووت او نورو نومونو او اصطلاحاتو ته نږدې شو، لکه: نوايستنه، پنځونه او نوښت.

په اتلسمه پېړۍ کې د لرغونپوهانو له لوري د لرغوني يونان و روم د هنري اثارو په مونډلو سره انځورګر هنرمنان او پژسازان د هغوی د هنري لارو په تقليد بوخت شول. په نولسمه پېړۍ کې محاکات نور د تقليد مانا نه درلوده او د اصلي پر وړاندې د بدل معادل په څېر ځيز وو. تر دې پورې چې په نولسمه پېړۍ کې د محاکات و تقليد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبیعت، د اپلاتون و ارستو د نظرونو په اړه بحث په جدي توگه دوام درلود ... په شلمه پېړۍ کې د تقلید او محاکات نومونو ځو لاملیزه بڼه وموندله او له بېلابېلو گوټونو تر مطالعې لاندې ونیول شول. په دې پېړۍ کې د نظر د خاوندانو له لوري په فلسفه، هنر و ادب کې د محاکات په اړه نوي بحثونه مطرح شول چې د څلورو لیکوالو نظرونه د پام وړ دي. الماني فیلسوف والتر بنجامین (Walter Benjamin ، ۱۸۹۵ – ۱۹۴۲ ز) په خپل کتاب کې محاکات د بشر له ځانگړو استعدادونو څخه گڼي. د ده په وینا: همدا طبیعت دی چې ورتوالی او یورنگي رامنځته کوي او وگړي یې درک کوي. د طبیعت محاکات د هغه ځواک پاتې شوني دي چې له لارې یې وگړو کولای شول ځان له نورو څیزونو یا وگړو سره ورته کړي.

تیودور ادورنو (Theodor Adorno ، ۱۹۰۳ – ۱۹٦۳ ز) د ښکلاپېژندنې د نظریې اثر لیکوال محاکات له چاپېریال سره د بشر د یورنگۍ و ورتوالي یو ډول بولي؛ د یوې غریزي تطبیق چې ټول ژوي د شاوخوا څېزونو په پرده کې ځان په چاپېریال کې ورگډوي. د هغه په نظر، هنرمن هم د طبیعت د محاکاتو له لارې ځان ورسره یورنگ و ورته کوي. ژاک دریدا (Derrida ، ۱۹۸۰ – ۲۰۰۴ ز) فرانسوي فیلسوف او مفکر محاکات د خپلې رغښت سپړنې (Deconstruction) نظریې بنسټیز محور گرځوي او په پای کې رنه ژرار (Rene Girard) د " محاکاتي لیوالتیا " نومونه جوړه کړه. ده د سروانتس، استاندال، پروست او داستایوسکي په څېر لیکوالو د اثارو تجزیې او تحلیل ته په پام د هنري محاکاتو په گډون د بشري لیوالتیاوو له پاره نوی جوړښت وموند. پر دې بنسټ، له محاکات څخه د انساني انگیزو تر ټولو مهمه یې د یو سیال شتون دی چې هغه هم د گډې موخې د ترلاسي له پاره هڅه کوي.

په هر حال، که د محاکات بېلابېلو ډولونو او په اړه یې بېلابېلو نظرونه ته ونه گورو، په بېلابېلو وختونو کې یې گڼې ماناوې خپلې کړي دي، لکه: تقلید، اغېزمننه، یورنگ یا ورته کول، بیا نندارېزول او ... . ( زینی وند، ثقه الاسلامي، بې.ن )

**پایله**

د Mimesis (محاکات) نظریه د لرغوني یونان له گڼو فلسفي نظریو څخه یوه ده چې له هغوی نه نړۍ ته په میرات پاتې ده. محاکات د یوناني ویې او نومونې Mimesis عربي ژباړه ده چې مانا یې پېښې، تقلید او نورې گڼې هغه دي چې په تېره لیکنه کې راغلي دي.

رښتیا دا دي چې د وگړني ژوند گڼ، تر دې چې ټول ارزښتونه په زنځیري بڼه له یوه وگړني پوړ او نسل بل ته لېږدېږي یا په بله وینا: اوسنی نسل له تېر نه د ژوند چارې او ارزښتونه کاپي کړي یا اوسني د تېرو پېښې یا تقلید

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. که مورږ وګورو د ادم ( ع ) او له هغه سره د نږدې نورو پیغمبرانو د ژوند پېښې زموږ په ژوند کې شته؛ کله سړی فکر کوي چې هر څه کټ مټ هماغسې دي، خو کله پکې نوې بڼې او رنګونه ګوري.

د محاکات موضوع هم د پورتني متن له منځپانګې سره نږدې تړلې ده. د پوهانو نظر دا دی چې هنرمن تقلید کوي، لکه یو شاعر چې له طبیعت نه د سیندونو ، ګلانو ، پسرلیو او ... انځورونه اخلي او موږ ته یې په الفاظو کې وړاندې کوي. په ټوله کې پوهان په دې نظر کې سره یو دي چې هنرمن تقلید کوي، خو د تقلید د ډول او څرنګوالي په پېژندلو او روښتیا کې سره وېشلي دي.

**اخځونه**

ابادیس وېبپاڼه. محاکات. د خپرېدو نېټه: (بې.ن)، لاسرسی: https://abadis.ir/fatofa [اخیستنه: ۱۰/زمری/۱۴۰۲ ل.ل] .

بارزګاني، ابراهیم. نظریه محاکات از دیدګاه فارابي و ابن سینا [مقاله]. د خپرېدو نېټه: (بې.ن) لاسرسی: http://www.dte.ir/portal/home/?news [اخیستنه: ۱۸/زمری/۱۴۰۲ ل.ل] .

زیني وند، تورج؛ ثقه الاسلامي، مژګان. نظریه محاکات و ادبیات تطبیقي [مقاله]. د خپرېدو نېټه: (بې.ن)، لاسرسی: https://www.sid.ir/FileServer/SF/6341393H0236 [اخیستنه : ۳/وری/ ۱۴۰۲ل.ل] .

طاهري، محمد. نګاهی به سیر آرا و عقاید در باره نظریه محاکات [مقاله]. د خپرېدو نېټه: ۱۳۸۸ل.ل، لاسرسی: https://www.sid.ir/paper/137828/fa [اخیستنه: ۲۰/زمری/ ۱۴۰۲ل.ل] .

غضنفر، اسدالله. ( ۱۳۹٦ل.ل ) . جادوګر هنر [دویم چاپ]. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

مبین، رحمت الله. محاکات [مقاله]. د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۰ل.ل، لاسرسی : https://www.nunn.asia [اخیستنه : ٦/وری/۱۴۰۲ل.ل] .

ویکي فقه وېبپاڼه. محاکات . د خپرېدو نېټه: (بې.ن) ، لاسرسی: https://fa.wikifeqh.ir [اخیستنه : ۱۵/وری/۱۴۰۲ل.ل] .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**